لــیـــکنـه : امیرگران
۰۱ جنوری ۲۰۲۰

## ایـــا د پاکستان د پوځ د ستردرستیز د قرارگاه( GHQ ) او استخباراتو ترهــگریز دوکتورین تر کاناډا ورسیدل ؟

په بلوچستان کي مدافع وکیل صادق رئیساني ایډوکیټ او د BNM ( بلوچستان نیشنل موومنټ ) سکرترجنرال ډاکتر مراد بلوچ د یوي اعلامیي په ترڅ کي وویل چي په تورنتو کاناډا او سرتاسري نړۍ کي د بلوچانو د ازادي بخښونکي غورځنگ د مبارزینو او د بشري حقونو د مدافعینو او فعالانو ، له هغي جملي په تورنتو کي د ارواښادي کریمه بلوچ جبري تښتونه او ترور د پاکستاني پوځي استبلشمنټ او استخباراتي کړیو د ترهگریز دوکتورین او دسیسو یوه برخه ده ، د پاکستان دولتي استخباراتي اداري په هرځاي او هره ممکنه وسیله چي کیږي د بلوڅانو ، پښتنو او نورو بشري حقونو د مدافعینو د ازادۍ او حق غوښتني اواز خاموشه کړي ، ۳۷ کلنه کریمه بلوچ داسي یوي کورنۍ ته منسوبه وه چي د بلوچستان د ازادي بخښونکي غورځنگ لپاره ئي په سرښندنه قرباني ورکړي ، د ارواښادي کریمه بلوچ وحشیانه ترور اوس د کاناډا د حکومت او امنیتي ادارو لپاره یو گواښ ( چلینج ) ده ، د بلوڅانو او نړۍ مدني او د بشري حقونو بنسټونه جدي غوښتنه لري چي د دغي زړه بگنونکي تروریستي پیښي په اړوند بلوچ قام ته په شفافه او بي طرفه توگه حقایق روښانه او مسؤلین ئي رسوا او مجازات شي ،

د بلوچستان د ازادۍ ملي غورځنگ د نړۍ د بشري حقونو او مدني بنسټونو له ادارو څخه په کلکه غوښتنه کوي چي هغه ترهگري اداري او د دوي اجنټان چي په تورنتو کي د کریمه بلوچ ، په سویډن ـ ستاکهلم کي د ژورنالیست ساجدحسین بلوچ چي پروسږکال ترورشوي او په قندهار کي د گل بهار بگټي او د هغه د زوي مرادعلي بگټي په تروریستي پیښو کي لاس لري افشاء او د قانون له مخي مجازات شي ، همدا ډول په کاناډا او نوره نړۍ کي د پاکستان د پوځي ـ ملکي حاکم اشرافیت مخالف گروپونه ، ډلي ، د بشري او مدني حقوقو فعالان او مدافعین له هغي جملي ، بلوچ نیشنل موومنټ BNM، بلوچستان ملي گوند کاناډا ، نړیوال سیندهـ کانگریس کاناډا، پـښـــتون کونسل کاناډا او PTM یا پښتون ژغورني د مدني خوځښت کمیټه کاناډا په یوه گډه اعلامیه کي د اروا ښادي کریمه بلوچ ترور غندلي او د حادثي په اړوند ئي د کاناډا له حکومت او امنیتي سکتور څخه د شفافو او بي پري هــڅـــو او تحقیقاتو غوښتنه کړي ، د بلوچستان د متعلیمینو د اتحادئي ازاد ، استازي وویل ، کریمه بلوچ چي د نوموړي اتحادئي BSO پخوانۍ مشره او هم د بلوچستان د ملي غورځنگ د رهبرۍ مخکښه وه ، د کاناډا د تورنتو په ښار کي د نوموړي جبري تښتونه او ترور د نړیوالو استخباراتي او امنیتي شبکو او هم د بشري حقوقو د دفاع د دعویــدارو په خوله د توپانچي فیر او حمله ده ، هغه زیاتوي

چي په پاکستان او د بلوچستان په ایالت کي سیاسي ، مدني او د بشري حقونو فعالان د پاکستان د پوځ ، استخباراتي کړیو، ددوي د اجیرو ملیشو او په دوي پوري تړلي توندلاري او افراطي مذهبي ډلګیو د ظلم ، جبري تښتونو او هدفي وژنو له امله اروپا ، امریکا او نورو هیوادو ته جبراً مهاجر کیږي ولي له بده مرغه هلته هم په امن کي نه دي ، کریمه بلوچ هم په ۲۰۱۵ م کال د خپل غورځنګ د رئیسي په توګه د مشوري له مخي نړیوالو قانوني ، حقوقي ادارو او د ملګرو ملتو سازمان ته د پاکستان د دولتي او پوځي استبلشمنټ د ظلم او ضدبشري اعمالو د افشاء او لوڅولو په منظور کاناډا ته مهاجره شوي وه ، هغه په خپلو هلوځلو او فعالیتونو کي ډیره فعاله ، کامیابه او د زړه ورتیا یوه بیلګه وه ، د بلوچستان د ازادۍ د مبارزي غورځنګ د اروابنادي کریمه بلوچ چي په نړۍ کي د BBC لخوا د 100 سلو بانفوذه ښځو په کتار کي انتخاب شوي وه د شهادت له امله 40 څلویښت ورځي ماتم اعلان کړي ، د یادولو وړ ده چي د اروابنادي کریمه بلوچ ګورنۍ ، او د BNM تحریک په کاناډا کي د پاکستان د هاي کمشنریت ( سفارت) پریس ریلیز او د هغو غوښتنو او توضیحاتو په هکله چي د تروریستي حادثي له امله ئي د کاناډا له امنیتي چارواکو غوښتي په سختو الفاظو رد کړي او زیاته کړي ئي ده چي د پاکستان د سفارت ریوټ او د تحقیقاتو غوښتنه د دغه جنایت او جرم د پـــــــټـــولـــو لپاره هڅي او کوشش ده ، د غورځنګ په توضیحي څرګندونو کي د کاناډا د پولیسو دا ادعا چي (داسي شواهد مو پیدا نکړل چي څرګنده کړي کریمه بلوچ د بل چا لخوا وژل شوي وي ) هم رد کړل او وائي چي کریمي بلوچ ته به روزانه ښکنځلي او توهین کیده ، دا له هیچا پټه نه ده چي د پاکستان په زرګونو پخواني متقاعد افسران او پوځ ته وفاداره ډلګۍ او ملیشي په کاناډا کي میښتي دي ، باید زیاته شي چي د بلوچانو ، پښتنو او نورو قومونو لخوا کوم چي د پاکستان د پوځي او استخباراتي ادارو تر ستم او ظلم لاندي د مشقت ، ویري او د سختو ستونزو په تیرولو ژوند تیروي د پاکستان په داخل او خارج کي د جبري تښتونو ، هدفي وژنو او نورو بشري او مدني حقونو ضد فعالیتونو له امله مظاهري او لاریونونه کوي ، د PTM د رهبرۍ د مخکښ علي وزیر چي د پارلمان مصونیت هم لري لاسونه په ځنځیرو تړل او لسګونو زره جبراً تښتول شویو بندیانو د خلاصون او د نورو انساني او قانوني غوښتنو د حاصلولو لپاره په داخل او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د پ ټ ام د غړو او خواخوږو مسالمت امیزه مبارزي جاري دي او دوام به ولري ، همداډول په بلوچستان او د نړۍ په نورو ښارو کي د کریمه بلوچ مبارزو ته د درنښت په خاطر د بلوچ مبارزینو لخوا انلاین او حضوري جلسي ادامه لري د بلوچستان د مرکز کوئـــټي او نورو ښارو کي هم د بلوچستان د ښځو د اتحادئي BWA لخوا پراخي مظاهري شوي او د یوي اعلامیي په نشر کولو سره ئي کریمي بلوچ ته د دعا او درناوي ترڅنګ د نوموړي قتل د متمدني نړۍ قتل یاد کړي او زیاتوي چي هغې د نویو نړیوالو قوانینوپه چوکاټ کي د بلوچستان په ملي تحریک کي فعاله برخه واخیسته او د دغه ایالت ښځینه ئي په سیاسي لحاظ متحدي کړي ، دوي د پاکستان په څارګرو او امنیتي شبکو ملامتي واچوله چي د دوي کورونه ئي تر نظارت لاندي نیولي او د ټولو مدني ، دموکراتیکو او نړیوالو قوانینو خلاف نه یوائي د دوي کورونه تلاشي کوي ، بلکه په پاکستان او د نړۍ په نورو ښارو کي د هغوي د ځورونو ، هدفي وژنو دسیسي او پلانونه جوړوي چي بېلګي ئي له هیچا پټي نه دي او د متقاعدو جنرالانو حمیدګل ، مشرف ، ضیاءالحق او په لسګونو نورو جنرالانو ، دولتي لوړ پوړو چارواکو ، سیاست پوهانو او مذهبي توندلارو او جګړه مارو اشخاصو په مصاحبو ، ویډیوکلیپونو او ډله ایزو رسنیو کي د لیدلو او مطالعي لپاره موجودي دي ، دلته یوه مثال ته اشاره کوم ،

په 2008 م کال د بلوچستان ایالت یوه روڼ اندي او د بشري حقونو فعال ، ډاکټر عارف بارکزي د " بلوچستان سیاست او سوسیالیزم " ترعنوان لاندي یو کتاب ولیکه چي وروسته د Barakzai 's Papers په نامه ئي شهرت پیدا کړ ، د کتاب مؤلف د پاکستان د پوځي ـ ملکي بیروکراسی په ترهګریزو پالیسیو او نظریو ( Narrative ) د سخت انتقاد له

امله په کراچي کي د استخباراتي شبکو او د دوي د ډیتهـ سکواد د مذهبي ډلګیو لخوا لومړي تعقیب او بیا د کراچی د لیاري په سیمه کي ترور کړي شو ، په کتاب کي دا حقیقت ډاګیزه شوي وو چي د پاکستان د پوځي استبلشمنټ او استخباراتي ادارو د خپلو پالیسیو له مخي په داخل او له پاکستان څخه بهر د دولتي پالیسیو مخالفین ، سیاسي ، مدني او د خپلو طبیعي او بشري حقونو فعالان او مدافعین تعقیب او د ترور پلانونه ئي جوړوي، لکه په کراچی ، سویډن ، افغانستان او کاناډا کي ، د پخواني دیکتاتور پرویز مشرف یو ویډیو کلیپ ما لیدلي چي د پاکستان د یوه شخصي تلویزیون له چلوونکي وجاهت S خان سره په خپله مصاحبه کي په خندا او تمسخر وائي چي ) پاکستان هم د نورو هیوادو په څیر خپل مخالفین په بهر کي په قتل رسولاي شي بیا ئي هیڅوک هم په اثبات نه شي رسولاي چي مسؤل څوک دي ؟ ( همدا ډول د ISI پخواني رئیس جنرال حمیدګل په یوه مصاحبه کي وائي چي جنرال ضیاء الحق امریکا ته د سفر پر مهال یوه پاکستاني ژورنالیست ته وویل چي په ټوله نړۍ کي د آي اس آي اجنټان له هغي جملي 2000 ئي په امریکا کي استخدام شوي ، له ځکه هم دا سوال له هرچا سره باید ځواب شوي وي چي د پاکستان د پوځ د عمومي قرارګاه GHQ او د دوي د استخباراتي کړیو ترهګریز دوکتورین افغانستان ، سویډن ، کاناډا او نورو هیوادو ته رسیدلي ، امیرګران .